بسم الله الرحمن الرحيم

## د لمانځه په صفونو کې فاصله یو بدعت دی، چې ګناه یې د حکامو پر غاړه ده

**(ژباړه)**

**الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد**

ټولو هغو کسانو ته چې ما ته یې د جمعې او جماعت لمونځونو پر مهال د دوه متره واټن مراعتولو په اړه پوښتنه را لېږلې ده... دوی وایي چې په ځینو اسلامي هیوادونو کې چارواکي مسجدونه بندوي، خو کله چې یې خلاصوي، نو پر لمونځ کوونکو د دوه متره واټن مراعتول جبري کوي. چارواکي دا عمل داسې توجیه کوي چې ناروغ شخص معذور دی او په ناسته لمونځ کولی شي، نو د همدې قیاس له مخې دی د خپل څنګ له کس څخه دوه متره فاصله مراعتولای شي. ان که دی ناروغ هم نه وي، خو بیا هم له ناروغۍ څخه وېرېږي، ځکه نو باید فاصله مراعت کړي. دلته دوې پوښتې پیدا کېږي: ایا حکامو ته جواز شته چې پر لمونځ کوونکو واټن مراعتول جبري کړي؟ یا هم ایا دا فاصله مراعتول بدعت دی چې ګناه یې د حکامو پر غاړه ده؟ پوښتونکو د دغو دوو پوښتنو د ځوابېدلو په اړه ټینګار کړی دی. زه د دوی پوښتنې ځوابوم او له الله سبحانه وتعالی څخه توفیق غواړم:

موږ وړاندې هم د بدعت په اړه تر یوه زیات ځوابونه خپاره کړي دي، که پوښتونکي هغه وګوري نو ځواب به ورته روښانه شي چې په لمانځه کې فاصله مراعتول لکه څنګه چې وویل شول یو بدعت دی او که یې حکام پر خلکو مراعتول جبري کړي ګناهکار کېږي، د دې تفصیل په لاندې ډول دی:

لومړی: موږ د ۱۴۳۴هـ ق کال د رجب پر ۲۸مه چې د ۲۰۱۳م د جولای له ٦سره سمون خوري لاندې ځواب خپور کړی، چې پکې راغلي:

(بدعت د شارع له یو امر څخه تېري ته وایي، چې معنی یې د شریعت له لوري ټاکل شوې وي. د بدعت لغوي مانا په لسان العرب کې داسې راغلې ده:

**"المبتدع الّذي يأتي أمراً على شبهٍ لم يكن...، وأبدعت الشّيء: اخترعته لا على مثالٍ**

***ژباړه:*** *مبتدع (بدعت کوونکی) هغه څوک دی چې یو داسې شی رامنځته کړي چې ساری یې تراوسه نه وي لیدل شوی... داسې شی اختراع کړي چې مثال یې نه وي.*

د بدعت اصطلاحي مانا هم په همدې ډول ده. د مثال په ډول که چېرې رسول الله صلى الله عليه وسلم يو کار په ځانګړې بڼه ترسره کړی وي او يو مسلمان يې له هغې بڼې څخه په بل ډول وکړي، نو دا بدعت دی. بدعت له هغې ټاکل شوې طريقې څخه انحراف ته وايي چې شارع د يو امر لپاره ټاکلې وي او دا د دغه حديث له مفهوم څخه اخيستل شوی دی: «**وَمَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ**»(بخاري او مسلم) ***ژباړه:*** *هر څوک چې داسې عمل ترسره کړي چې موږ امر نه وي پرې کړی، هغه مردود دی.*

د بېلګې په ډول، که يو څوک په لمانځه کې د دوو سجدو پر ځای درې سجدې وکړي، نو ده يو نوی شی رامنځته کړ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طريقې خلاف يې وکړ. که چېرې يو څوک په مينا کې د اوو تيږو پر ځای اته تيږې وغورځوي، ده بدعت وکړ، ځکه دا کار د رسول الله صلى الله عليه وسلم له عمل سره په ټکر کې دی. دغه راز که يو څوک له اذان څخه څو کليمې کمې يا ورزياتې کړي، نو بدعت يې کړی، ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان لپاره ځانګړي الفاظ بيان کړي دي.

البته له يوه داسې شرعي عمل څخه د انحراف حکم چې په اړه يې ځانګړې طريقه نه وي وضع شوې، د شريعت د نورو حکمونو په ډله کې راځي: دا به حرام، مکروه او داسې نور وي. که چېري يو عمل د وضعي حکم له ډلې څخه وي، بيا د عمل په تکليف پورې اړه لري او د باطل، فاسد او نورو تر چتر لاندې راځي.

د مثال په ډول مسلم له عايشې رضی الله عنها څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه په اړه روايت کوي چې وايي:

**«...وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ، حَتَّى يَسْتَوِيَ قَائِمًا، وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ، لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ جَالِسًا...»**

***ژباړه:*** *... رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به کله له رکوع څخه سر راپورته کړ، تر هغه به سجدې ته نه تلو چې پوره به نه و درېدلی او کله چې به يې له سجدې څخه سر راپورته کړ تر هغه به يې سجده نه کوله چې نېغ به نه و کښېناستلی.*

پر همدې بنسټ، په دې روایت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته راښیي چې مسلمان باید له رکوع څخه له سر راپورته کولو وروسته تر هغو سجده ونه کړي، چې نېغ نه وي درېدلی او کله چې له سجدې څخه سر راپورته کړي، تر هغو به بیا سجدې ته نه ځي چې نېغ نه وي کېنښناستلی. دا طریقه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري وضعه شوې ده او که څوک له دې تجویز شوې طریقې څخه انحراف کوي، نو ځان یې په بدعت کې واقع کړی دی. که چېرې یو مسلمان په لمانځه کې له رکوع څخه سمدستې سجدې ته ځي، پرته له دې چې نېغ ودرېږي، نو دا هم بدعت دی، ځکه دا کار د رسول الله صلی الله علیه وسلم له راښودل شوې طریقې خلاف دی، دا یو ناوړه بدعت دی او هغه څوک یې چې کوي گناهکاریږي.

دغه راز مسلم له عبیده بن صامت څخه روایت کوي:

**إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَنْهَى عَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالذَّهَبِ، وَالْفِضَّةِ بِالْفِضَّةِ، وَالْبُرِّ بِالْبُرِّ، وَالشَّعِيرِ بِالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرِ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحِ بِالْمِلْحِ، إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ، عَيْنًا بِعَيْنٍ، فَمَنْ زَادَ، أَوِ ازْدَادَ، فَقَدْ أَرْبَى**

***ژباړه:*** *ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې هغه له دې کار څخه منعه وکړه چې سره زر په سرو زرو، سپین زر په سپینو زرو، وربشې په وربشو، خرما په خرما او مالگه له مالگې سره بدله شي؛ مگر دا چې مثل په مثل به وي، سترگه په سترگه به وي (ځای پر ځای)، خو که چا زیات واخیست او یا یې زیات ورکړ، له شک پرته چې سود یې وکړ.*

که یو مسلمان دا حدیث نقض کړي او سره زر د ډېرو سرو زرو په بدل کې وپلورلي او وزن په وزن یې خرڅ نه کړي، نو نه شو ویلی چې ده بدعت وکړ، بلکې ده یو حرام عمل یعنې سود (ربا ) ترسره کړه.

لنډه دا چې په یوه چاره کې د رسول الله صل الله علیه وسلم له طریقې خلاف کار کول بدعت دی. خو په مطلق ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امر مخالفت ـ پرته له دې چې د ځانگړې طریقې خلاف عمل وشي ـ د نورو شرعي احکامو (حرام، مکروه، فاسد، باطل او...) تر چتر لاندې راځي او حکم ورته د دلیل له مخې ټاکل کیږي. د نقل قول پای.

موږ د بدعت په اړه د ۱۴۳٦هـ ق کال د ذوالحجې پر ۸مه چې د ۲۰۱۵م د سېپټمبر له ۲۲سره سمون خوري، نور تفصیلي معلومات خپاره کړي دي او تر دې وړاندې او وروسته مو هم پر دې موضوع کافي ځوابونه ورکړي، چې انشاء الله هماغه کفایت کوي.

**دویم:** له همدې امله، که په اسلامي خاورو کې یو دولت عبادت کوونکي اړ باسي چې د ناروغۍ د سرایت له وېرې یو له بل څخه یو یا دوه متره فاصله مراعت کړي، هغه که د جمعې لمونځ وي یا نور د جماعت لمونځونه، په ځانګړې توګه کله چې په یو چا کې د ناروغۍ څرګندې نښې هم نه وي، نو د کبیره ګناه مرتکب کیږي. ځکه په صفونو کې فاصله یو بدعت دی او دا عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقې خلاف کار دی. دا د لمانځه د صفونو د جوړولو او یو بل ته د نږدې درېدلو له هغې طریقې څخه څرګنده سرغړونه ده، چې د شرعي دلایلو له مخې رسول صلی الله علیه وسلم ښودلې ده، چې ځیني یې په لاندې ډول دي:

ـ بخاري په خپل صحیح کې له ابو سلیمان مالک ابن الحویریث څخه روایت کوي چې وایي: موږ څو تنه همزولي ځوانان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلو. له هغه سره مو شل شپې وکړې... دی مهربان او زړه سواندی و. او ویل یې:

**«فَقَالَ ارْجِعُوا إِلَى أَهْلِيكُمْ فَعَلِّمُوهُمْ وَمُرُوهُمْ وَصَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي وَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ»**

***ژباړه:*** *تاسې بیرته خپل اهل ته لاړ شئ، هغوی ته علم ور زده کړئ او امر یې کړئ. داسې لمونځ وکړئ، لکه زه چې مو پر لمانځه ولیدلم. کله چې د لمانځه وخت شي، په تاسې کې دې یو اذان وکړي او بیا دې په تاسو کې تر ټولو مشر امامت وکړي.*

بخاري په خپل صحیح کې له انس بن مالک څخه روایت کوي، دی وایي: کله چې اقامت وویل شو، د الله رسول صلی الله علیه وسلم موږ ته مخ راواړوه او ویې ویل: «**أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ، وَتَرَاصُّوا، فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي**» ***ژباړه:*** *خپل صفونه مو سیده کړئ او نږدې سره ودرېږئ، ځکه زه تاسې له شا څخه وینم.*

امام مسلم په خپل صحیح کې له نعمان ابن بشیر رضی الله عنه څخه روایت کوي، دی وایي چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم موږ ته لارښوونه وکړه چې خپل صفونه د غشو په څېر سیده کړو. ده دا خبره دومره تکرار کړه، تر څو په دې ډاډه شو، چې موږ یې په مطلب ورسېدو، یوه ورځ دی صلی الله علیه وسلم مسجد ته راغی او ودرېد. د تکبیر ویلو په وخت کې یې پام شو چې د یو تن ټټر له صف څخه دباندې راوتلی دی، نو ویې ویل:

**«عِبَادَ اللهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ، أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ»**

***ژباړه:*** *اې د الله بنده ګانو، تاسې باید خپل صفونه سیده کړئ، کنه، نو الله سبحانه وتعالی به ستاسو تر منځ اختلاف واچوي.*

همدا راز امام مسلم په خپل صحیح کې له جابر ابن سمره څخه روایت کوي، هغه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

**«أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟» فَقُلْنَا يَا رَسُولَ الله، وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟ قَالَ: «يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ»**

***ژباړه:*** *تاسې ولې داسې صفونه نه برابروئ، لکه ملايکې چې د خپل رب پر وړاندې صفونه برابروي؟ موږ وويل: اې د الله رسوله الله صلی الله علیه وسلم، ملايکې د خپل رب پر وړاندې څنګه صفونه برابروي؟ هغه وفرمايل: هغوی لومړي صفونه بشپړوي او بيا په صفونو کې يو له بل سره نږدې درېږي.*

حاکم روايت کړی او وايي چې د امام مسلم د صحت له شرطونو سره سم په یوه صحیح حدیث کې له عبدالله بن عمر څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

**مَنْ وَصَلَ صَفّاً وَصَلَهُ اللَّهُ، وَمَنْ قَطَعَ صَفّاً قَطَعَهُ اللَّهُ**

***ژباړه:*** *څوک چې صف وصل کړي، الله تعالی به يې (له خپل رحمت) سره وصل کړي او څوک چې صف پرې کړي الله تعالی به يې (له خپل رحمت) څخه جلا کړي.*

امام احمد له عبدالله ابن عمر څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

**«أَقِيمُوا الصُّفُوفَ فَإِنَّمَا تَصُفُّونَ بِصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ وَلِينُوا فِي أَيْدِي إِخْوَانِكُمْ وَلَا تَذَرُوا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ وَمَنْ وَصَلَ صَفّاً وَصَلَهُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَمَنْ قَطَعَ صَفّاً قَطَعَهُ اللَّهُ»**

***ژباړه:*** *خپل صفونه منظم کړئ، ځکه تاسو بايد د ملايکو په څېر صفونه جوړ کړئ. اوږې مو يو له بل سره برابرې کړئ، د صفونو په منځ کې مو خالي ځايونه ډک کړئ، له خپلو ورونو سره مو نرمي وکړئ او د شيطان لپاره فاصله مه پرېږدئ. هر هغه څوک چې صف سره نښلوي، الله تعالی به يې له خپل رحم سره ونښلوي او څوک چې صف پرې کوي الله تعالی به يې له خپل رحم څخه جلا کړي.*

پورته رواياتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه د طريقې په اړه بشپړ وضاحت بيان کړی او اصحاب کرام رضی الله تعالی عنهم هم په همدغه طريقه پابندي کړې ده. امام مالک په خپل کتاب «الموطأ» او بيهقي په «السنن الکبری» کې روايت کړي: «عمر ابن الخطاب به امر کاوه، چې صفونه سيده کړئ، کله چې به د صفونو د سيده والي په اړه خبر ورکړل شو، بيا به يې تکبير وايه.»

**دریېیم:** دا نه شي ویل کېدای چې ساري ناروغي یو داسې عذر دی چې د لمانځه په صفونو کې فاصلې ته جواز ورکوي، داسې ځکه نه شو ویلای چې ساري ناروغي مسجد ته د نه تګ لپاره عذر دی، مګر مسجد ته د تللو او هلته د لمونځ کوونکو تر منځ د یو متر یا دوه متره فاصلې د مراعتولو لپاره عذر نه دی!! ځکه ساري ناروغي (طاعون) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هم خپره شوې ده، خو له هغه څخه دا نه دي روایت شوي چې په وبا ککړ ناروغ دې لمانځه ته تللی وي او همالته دې له خپل ورور څخه دوه متره لېرې درېدلی وي، بلکې په وبا اخته شخص معذور دی او په خپل کور کې لمونځ کولی شي... په هغه سیمه کې چې ناروغي خپره شوې وي، په وړیا او غوره طریقه سره یې درملنه د دولت پر غاړه ده او ناروغ اشخاص به له روغو کسانو سره نه ګډېږي... لکه څنګه چې امام مسلم په خپل صحیح کې له اسامه ابن زید څخه روایت کړی دی، چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«الطَّاعُونُ آيَةُ الرِّجْزِ ابْتَلَى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ نَاساً مِنْ عِبَادِهِ، فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَفِرُّوا مِنْهُ»**

***ژباړه:*** *وبا د الله عزوجل له لوري د مصیبت نښه ده، چې الله سبحانه وتعالی پرې خپل بنده ګان مبتلا کوي. نو کله چې مو د وبا په اړه خبر واورېد، نو هغې سیمې ته مه داخلېږئ چې وبا پکې خپره شوې او کله چې ستاسې په سیمه کې خپره شي، نو تېښته ترې مه کوئ.*

په دې ډول د ساري یا وبایي ناروغیو لرونکي اشخاص باید له روغو کسانو سره یو ځای نه شي او د دوی د درملنې لپاره باید کافي هڅه وشي، که د الله سبحانه و تعالی خوښه وي، نو جوړ به یې کړي. البته روغ اشخاص باید مسجد ته لاړ شي او د جمعې او جماعت نور لمونځونه په عادي بڼه له واټن مراعتولو پرته ادا کړي.

**څلورم:** همداراز، دا وینا غلطه ده چې وایي، د وبا پر مهال په لمانځه کې فاصله مراعتول د هغه قیاس له مخې کېږي چې یو ناروغ ته د ناروغۍ پر مهال په ناستې د لمانځه کولو رخصت شته. په دې ځای کې دا یو شرعي قیاس نه دی، ځکه ناروغ شخص د الله سبحانه وتعالی له لوري د رخصت له مخې په ناسته لمونځ ادا کوي، هغه هم د یوه عذر له وجې، چې ناروغي ده. عذرونه اسباب دي، علتونه نه دي، ځکه خو شریعت عذرونه د علتونو په توګه نه دي ګرځولي، بلکې هر عذر یې د یوه خاص شرعي حکم په مورد کې د عذر په حیث پېژندلی دی، نو یو عذر د بل حکم لپاره عذر نه بلل کیږي. یعنې عذر د هغه حکم لپاره عذر بلل کیږي چې د هغه حکم په مورد کې راغلی وي، نه دا چې عذر د ټولو حکمونو لپاره عام دی. پر دې اساس عذر علیت (علتوالی) نه افاده کوي او قیاس پرې نه شي کیدای. او سبب خاص او د خپل مسبب پورې ځانګړی وي او له مسبب پرته بل شي

ته سرایت نه کوي، له همدې امله پر سبب باندې قیاس نه کیږي. مګر علت داسې نه دی، ځکه علت په یوه ځانګړي حکم پورې خاص نه وي، بلکې نورو حکمونو ته هم سرایت کوي او قیاس ورباندې کیږي... نو کوم څه چې د عباداتو په برخه کې واضح شوي دي، اسباب دي، نه علتونه، ځکه خو عبادات توقیفي دي چې تعلیل او قیاس پکې نه شي کېدای، ځکه سبب په خپل مسبب پورې خاص وي.

**پنځم:** همدا ډول رخصت د وضعي احکامو له ډلې دی او دا د شارع هغه خطاب دی چې د بنده ګانو په کړنو پورې اړه لري، د وضع په ډول. دا چې وضعي حکم د شارع له لوري یو خطاب دی، نو باید یو شرعي دلیل وي ورته، چې دلالت پرې وکړي. د مثال په ډول: د ناروغ سړي لپاره په ناسته د لمانځه کولو د جواز په اړه بخاري په خپل صحیح کې له عمران بن حسین څخه روایت کوي چې وایي، ما د بواسیر ناروغي لرله، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د لمانځه په اړه وپوښتل، هغه راته وویل:

**«صَلِّ قَائِماً فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِداً، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ»**

***ژباړه:*** *په ولاړې لمونځ وکړه، که په ولاړه دې نه شو کولی، نو په ناسته یې وکړه او که په ناسته دې هم نه شو کولی، نو په اړخ یې وکړه.*

دا یو رخصت دی یعنې یو شرعي عذر دی چې په اړه یې شرعي دلیل راغلی دی. نو د هر شي په اړه چې شرعي دلیل وي او دا روښانه کړي چې دا د یوه ټاکلي حکم په مورد کې عذر دی، نو هغه عذر بلل کیږي. خو د څه په اړه چې دلیل نه وي، هغه هېڅ ارزښت نه لري او په مطلق ډول د شرعي عذر په توګه نه ګڼل کیږي... پر دې اساس؛ دا چې ناورغ کولی شي چې په لمانځه کې د څنګ له نفر څخه یو یا دوه متره لېرې ودریږي، په دې اړه هېڅ دلیل نشته. له همدې امله دا خبره نه کوم شرعي ارزښت لري او نه هم صحت. نو کله چې د ناروغ سړي لپاره د فاصلې رعایت جواز نه لري، نو د هغه چا لپاره به څنګه جواز ولري چې لا تر اوسه ناروغ نه دی او یواځې یې د ناروغۍ احتمال شتون لري؟!

**شپږم:** د پورتنیو خبرو لنډیز په دې ډول دی:

۱ : د لمانځه د ادا کولو د هغې طریقې تغیر چې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته رانبودلې ده، یو  بدعت دی. په داسې حالاتو کې شرعي حکم دا دی چې روغ شخص به په عادي ډول لمانځه ته ځي او لکه د عادي حالت په څېر به په صفونو کې نږدې دریږي او په صف کې به خالي ځایونه نه پریږدي. دغه راز ناروغ شخص چې په ساري ناروغۍ اخته وي مسجد ته نه ځي، تر څو نورو ته ناروغي ونه لېږدوي.

۲: كه دولت مسجدونه بندوي، او روغ خلک په مسجدونو کې د جمعې او جماعت لمونځونو له ادا کولو څخه راګرځوي، نو دا کار ستره ګناه ده، ځکه د جمعې او جماعت لمونځونه ځنډول (پرېښودل) کيږي. مسجدونه بايد پرانيستي وي او په هغه طريقه لمونځ پکې ادا شي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ښودلې ده.

۳: همداراز که چېرې دولت لمونځ کوونکي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په طريقه له لمانځه کولو څخه منعه کوي او اړ باسي يې چې په ناروغۍ د مصاب کېدو له وېرې بايد د عبادت کوونکو تر منځ يو يا دوه متره فاصله مراعت شي، په ځانګړي ډول پرته له دې چې د ناروغۍ علايم څرګند وي، نو په دې کار سره د سترې ګناه مرتکب کيږي.

دا هغه شرعي حکم دی چې په دې مسله کې زما په اند ارجحيت لري، الله سبحانه وتعالى عالم او حکيم ذات دی... زه له الله سبحانه وتعالى څخه غواړم، چې مسلمانان مستقيمې لارې ته هدايت کړي او لکه څنګه چې يې امر کړی دی، هغسې د هغه سبحانه وتعالى عبادت وکړي. دغه راز پر دوی لازمه ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر ښودل شوې طريقه عمل وکړي او پرته له کوم انحراف څخه رښتينی شريعت د راشده خلافت له لارې تاسيس کړي... بېشکه چې په دې کې خير او بريا نغښتې ده. که د الله سبحانه وتعالى خوښه وي، هغه ذات چې په اسمانونو او ځمکه کې هېڅ شی د هغه قدرت نه شي ننګولی او هغه عزيز او حکيم ذات دی.

وعليکم السلام ورحمةالله وبرکاته!

**ستاسو ورور شيخ عطا بن خليل ابو رشته**

**۱۴۴۱هـ.ق د شوال ۱۷مه**

**۲۰۲۰م د جون ۸مه**

**ژباړن: عبدالرازق**